پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسه

علمي او محصلانو چارو معاونیت

اقتصاد پوهنځی

# د اقتصاد پوهنځي د معلوماتو کتلاګ

کال: ۱۴۴۶ هـ. ق. / ۱۴۰۴ هـ. ل.

## د کتاب پېژندنه

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | د اقتصاد پوهنځي د معلوماتو کتلاګ |
| ترتیب | : | پوهنیار عبدالله حبیبي |
| ډیزاینر | : | پوهنیار عبدالله حبیبي |
| خپرندوی | : | پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسه –اقتصاد پوهنځی |
| چاپ لړ | : | لومړی |
| چاپ کال | : | ۱۴۴۶ هـ. ق. / ۱۴۰۴ هـ. ش. |
| اړیکي شمېره | : | + ۹۳ ۷۹۱ ۷۹۹ ۷۹۱ |
| ایمیل آدرس | : | abd.habibi.af@gmail.com |

د دې اثر د چاپ حق د پکتیکا لوړ زده کړو مؤسسې له اقتصاد پوهنځي سره خوندي دی.

بسم الله الرحمن الرحيم

# د مطالبو لیکلړ

د پیل خبرې ........................................................................ ۱
۱– د اقتصاد پوهنځي لنډه تاریخچه ............................................. ۲
۲– د پوهنځي لیدلوری ........................................................ ۳
۳– د پوهنځي ماموریت ........................................................ ۳
۴– د پوهنځي ارزښتونه ........................................................ ۳
۵– د پوهنځي ستراتېژيکې موخې ................................................ ۳
٦– د پوهنځي د قوت ټکي ....................................................... ۴
۷– د پوهنځي د ضعف ټکي ...................................................... ۴
۸– د پوهنځي فرصتونه ......................................................... ۵
۹– د پوهنځي په وړاندې خنډونه ................................................ ۵
۱۰– د پوهنځي د علمي برنامو پېژندنه ............................................ ۵
۱– منجمنټ او د تشبثاتو اداري دېپارتمنت ........................................ ۶
۱–۱– د دېپارتمنت لیدلوری ..................................................... ۶
۱–۲– د دېپارتمنت ماموریت ..................................................... ۶
۱–۳– د دېپارتمنت تحصیلي نصاب ................................................ ۶
۲– مالي او بانکي چارو دېپارتمنت ................................................ ۱۰
۲–۱– د دېپارتمنت لیدلوری ..................................................... ۱۰
۲–۲– د دېپارتمنت ماموریت ..................................................... ۱۰
۲–۳– د دېپارتمنت تحصیلي نصاب ................................................ ۱۰
۱۱– د پوهنځي د راتلونکي برنامو پېژندنه ........................................ ۱۴
۱۲– د پوهنځي تحصیلي نظام (استادان /کارمندان) ................................. ۱۴
۱۳– د پوهنځي تشکیلاتي چارت .................................................. ۱۵
۱۴– د پوهنځي دفارغانو لپاره د کار ساحې ....................................... ۱۶
۱۵– د پوهنځي کمپیوټري جوړښتونه ............................................... ۱۶
۱٦– له پوهنځي څخه فراغت معیارونه ............................................. ۱۷
۱۷– د پوهنځي زیربنائي امکانات ................................................. ۱۷
۱۷–۱– تدریسي زیربناء ........................................................... ۱۸

۱۷–۲–کتابتون ........................................................................ ۱۹
۱۷–۳–کمپیوتر لیب ........................................................................ ۱۹
۱۷–۴– د مهارتونو د پرمختیا مرکز ........................................................................ ۲۰
۱۷–۵– د غونډو تالار ........................................................................ ۲۱

# د پیل خبرې

الحمدلله رب العلمین والصلوة والسلام علي المبعوث رحمة للعلمین سیدنا محمد خاتم الانبیاء والمرسلین صلی الله علیه وسلم وعلی اله وصحبه اجمعین و من تبع هداه بإحسان الی یوم الدین. اما بعد :

انسان هره کاري کړنه د دې لپاره تر سره کوي، چې اجناسو او خدماتو ته لاس رسی پیدا کړي او د هغو په مټ خپله هوساینه او خوشحالي زیاته کړي؛ مګر په دې برخه کې د هغوی غوښتنې او خواهشات بې شمېره خو تر لاس لاندې سرچینې محدودې دي. د اقتصاد علم په دا ډول شرایطو کې د تصمیم نیونې لاره روښانه کوي؛ نو ځکه یې اجمالي زده کړه د هر وګړي لپاره اړینه ده. د پکتیکا لوړ زده کړو مؤسسې اقتصاد پوهنځی په خپل ټول توان سره هڅه کوي، چې د تدریس، څېړنې او خدماتو له لارې د خپلې ټولنې او هېواد په اقتصادي پرمختیا کې ونډه واخلي او دا هیله لري، چې زمونږ هېوادوال به د معقولو اقتصادي وګړو په څېر د دې علم د اصولو په تطبیق سره په خپل ژوند کې یو مثبت تحول رامنځ ته کړي او د خپل ځان، کورنۍ، ټولنې او هېواد لپاره به د خدمت جوګه وګرځي.

د پوهنځي موخو ته د رسېدنې لپاره له شک پرته یوه جامع او هر اړخیز پلان ته اړتیا لیدل کېږي، ددې اړتیا د رفع کولو په منظور د پوهنځي لپاره پنځه کلن ستراتیژیک پلان تدوین شوی دی او هغه به په عمل کې پلی کېږي. دغه پوهنځی په نظر کې لري، ترڅو د خپل ستراتېژیک پلان په رڼا کې خپل علمي پروګرامونه پرمخ یوسي او ددې تر څنګ هڅه کوي چې په مدیریتي، مالي او څېړنیزو برخو، د درسي ټولګیو په معیاري کولو، د استادانو او کارکوونکو د ظرفیت لوړونې په برخه او نورو مواردو کې داسې نوي پروګرامونه پلي کړي، چې ددې پوهنځي د علمي اعتبار د زیاتوالي سبب وګرځي. په پای کې د اقتصاد پوهنځي له ټولو با احساسه علمي کادرونو او اداري کارکوونکو څخه ډېره مننه کوم چې د پوهنځي د چارو په پرمخ وړلو کې یې فعاله ونډه لرلې دی، الله تعالی (جل جلاله) دې د هغوی ټولو خدمتونه قبول کړي.

په درنښت

پوهنیار عبدالله حبیبی

د اقتصاد پوهنځي رئیس

## ۱– د اقتصاد پوهنځي لنډه تاریخچه

اقتصاد پوهنځی په ۱۳۹۹ هجري لمریز کال کې تأسیس شوی دی او په دوو څانګو، منجمنټ او د تشبثاتو د اداري او د مالي او بانکي چارو په څانګه کې ځوان، ژمن او مسلکي کاري ځواک ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کوي. د دې پوهنځي په منجمنټ او د تشبثاتو اداري څانګه کې تر دا مهاله اته تنه استادان ګمارل شوي دي، چې درې تن یې د ماسټري تحصیلي درجې او پنځه تنه یې د لیسانس تر کچې زده کړې لري. د مالي او بانکي چارو په څانګه کې پنځه تنه استادان شتون لري، چې څلور تنه یې د لیسانس او یو تن یې د ماسترۍ تر کچې زده کړې لري. د پوهنځي د دې علمی کادرونو له جملې څخه یې یو تن د پوهنځي د رئیس او دوه تنه یې د څانګو د آمرینو په توګه دنده پر مخ وړي. د کادرې غړو ترڅنګ په پوهنځي کې یو تن عمومي تدریس مدیر، یو تن اجرائیه مدیر او درې تنه خدماتي کارکوونکي هم په دنده ګمارل شوي دي.

اقتصاد پوهنځي په ۱۴۰۲ تحصیلي کال کې خپله لومړۍ دوره فارغان چې ۴۲ تنو یې په منجمنټ او تشبثاتو اداري څانګه کې او ۴۰ تنو یې په مالي او بانکي چارو څانګه کې زده کړې کړې وې، ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړل او فعلا یې هم د هرې څانګې په هر ټولګي کې له ۴۰ تنه څخه زیات محصلین په زده کړه او تحصیل بوخت دي.

په دې پوهنځي کې د لوړو زده کړو محترم وزارت له خوا د تائید شوي کریکولم او درسي مفرداتو مطابق له ملي او علمي معیارونو او ستندردونو سره سم تدریس تر سره کېږي. د اقتصاد پوهنځي تحصیلي دوره اته سمتسره ټاکل شوي ده، چې په څلورو تحصیلي کلونو کې تکمیل کېږي. په دې پوهنځي کې په لومړی او دویم ټولګي کې د دواړو څانګو مضامین مشترک دي او په درېیم او څلورم ټولګي کې د دواړو څانګو تخصصي مضامین لوستل کېږي. په دې څلور کلن تحصیلي پروګرام کې ۱۵۶ کریډیټه په نظر کې نیول شوي دي، چې د کریډیټ سیستم لایحې ته په کتنې سره پوهنځی کولای شي چې لږ تر لږه ۱۳۸ کریډیټه یې بشپړ کړي. کریډیټ هغه درسي واحد دی، چې د هغه په اساس د سمسترونو په توپیر سره د تحصلي دورې نصاب او همدارنګه په دې نصاب کې د هر مضمون د تدریس ونډه ټاکل کېږي. تر دا مهاله اقتصاد پوهنځی خپل تدریسي تعمیر نه لري او د ټولګیو د کموالی په سبب یې دوو ټولګیو ته په سهارني درسي وخت او دوو ټولګیو ته په ماسپښین درسي وخت کې د کرنې پوهنځي په اړوند تدریسي بلاک کې تدریس کېږي.

## ۲– د پوهنځي لیدلوری

اقتصاد پوهنځی به په نژدې راتلوونکي کې د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې د پوه، متعهد او متخصص کاري ځواک په روزنې سره د هېواد په کچه یو مخکښ او باکیفیته پوهنځی وي.

## ۳– د پوهنځي ماموریت

اقتصاد پوهنځی د اکاډمیک چاپېریال په لرلو سره د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې د مدیریت، د تشبثاتو د اداري او مالي او بانکي چارو په برخه کې د ټولنې د اړتیا مطابق په ملي کچه سیال او با کیفیته تدریس، تحقیق او خدمات وړاندې کوي.

## ۴– د پوهنځي ارزښتونه

اقتصاد پوهنځی لاندې ارزښتونه په پام کې نیسي:

- ټولو اسلامي، ملي او انساني ارزښتونو ته درناوی؛
- همغږي، همکاري، عدالت او نورو اداري او ټولنیزو اصولو ته ژمنتیا؛
- د علمي کادر غړو، اداري کارکوونکو او محصلانو ته متقابل درناوی لرل؛
- د ټولنې، پوهنتون او نورو ذیدخل اړخونو په وړاندې د مسؤلیت احساس؛
- د چارو په پرمخ وړلو کې مشارکت او د مشورې اصل په پام کې نیول؛
- په هېواد او مؤسسه کې د ټولو نافذه قوانینو او مقرراتو په پام کې نیول.

## ۵– د پوهنځي ستراتېژيکې موخې

د اقتصاد پوهنځي عمده ستراتېژیکي موخې په لاندې ډول دي:

۱. د پوهنځي په سطحه د علمي څېړنو پراختیا، پرمختیا او د پوهنې او نوښت تولید؛
۲. د پوهنځي غوره اداره او رهبري، د سیستم منځ ته راوړل، د فساد کاملا له منځه وړل او د بودجې او عایداتي سرچینو زیاتوالی؛
۳. د نصاب پراختیا او په پوهنځي کې د پرمختللي او نوي تحصیلي نصاب تطبیقول؛
۴. د پوهنځی له تدریسي او اداري چارو نظارت او ارزونه کول او د کیفیت لوړاوی؛
۵. په پوهنځي کې د الکترونیکي زده کړو پراختیا او د الکترونیکي سیستمونو تطبیقول؛

۶. د پوهنځي د زېربناء ښه والي او پراختیا او د ټولو اړتیا وړ تدریسي او اداري تجهیزاتو او دفتري لوازمو چمتو کول او د هغو له ساتنې څخه ځارنه تر سره کول؛
۷. د پوهنځي د اداري کارکوونکو او کادري غړو تشکیل زیاتول او ظرفیت لوړونه؛
۸. په هېواد، لوړو زده کړو وزارت او مؤسسه کې د ټولو نافذه قوانینو، مقرراتو، لوایحو او طرزالعملونو تطبیق او د پوهنځي د تقنیني اسنادو تدوین، تعدیل او تطبیق؛
۹. د مؤسسې له ټولو داخلي او بهرنیو اکاډمیکو او غیر اکاډمیکو نهادونو سره د اړیکو ښه والي او پراختیا او د ټولنې په پرمختیا کې فعاله او مسؤلانه ونډه اخیستنه؛
۱۰. د محصلانو د ظرفیتونو لوړونې لپاره د ښو علمي برنامو او خدماتو عرضه کول.

## ٦– د پوهنځي د قوت ټکي

د پوهنځي د قوت ټکي عبارت دي له:

۱. د پوهنځي ښه رهبري او سالم مدیریت؛
۲. په پوهنځي کې د نوښت او ابتکاراتو شتون او پلي کول؛
۳. په پوهنځي کې ښه تدریسي امکانات او باکیفیته تدریس؛
۴. له ټولو کادري غړو او اداري کارکوونکو سره د مسؤلیت منلو د حس شتون؛
۵. له داخلي او خارجي ادارو سره غوره اړیکې او د همکاریو هوکړه لیکونه لرل؛
۶. د چارو په پرمخ وړلو کې د مشارکت، رښتینولي او همکارۍ د روحیې شتون؛
۷. په پوهنځي کې د باتجربه او مسلکي علمي کادرونو او اداري کارمندان شتون؛
۸. له امارتي او خصوصي تحصیلي نهادونو سره د سالمې سیالۍ د روحیې شتون؛

## ۷– د پوهنځي د ضعف ټکي

د پوهنځي د ضعف ټکي عبارت دي له:

۱. د پوهنځي په سطح د مالي او عایداتي سرچینو کموالی؛
۲. د پوهنځي په سطح د څېړنیز مرکز نشتوالی او لږ امکانات؛
۳. په پوهنځي کې د یوه ځانګړي غني کتابتون نشتوالی او د کتابونو کمښت؛
۴. په پوهنځي کې د تدریسي ویډیو سټوډیو نشتوالی او د برقي تدریس لږ امکانات؛
۵. د پوهنځي لپاره د خپل ځانګړي تعمیر، تدریسي ټولګیو او اداري دفاترو نشتوالی؛
۶. د پوهنځي په سطحه د علمي مجالسو د جوړولو لپاره د کنفرانس خونې نشتوالی؛
۷. په پوهنځي کې د لوړې تحصیلي سویې او علمي رتبې لرونکي کادرونو کمښت.


## ۸– د پوهنځي فرصتونه

۱. د اقتصاد پوهنځي له لوستلو سره د ښوونځیو د فارغانو ډېره علاقه؛
۲. له اقتصاد پوهنځي سره د پوهنتون د رهبري د همکاري ښه روحیه؛
۳. د کار په بازار کې د پوهنځي لپاره د متخصص علمي کادرونو شتون؛
۴. د کار په بازار کې د دې پوهنځي د فارغانو لپاره د کاري ساحې پراخوالی؛
۵. د همکاریو د هوکړه لیکونو د لاسلیکولو په برخه کې د مختلفو ادارو علاقه؛
۶. د ظرفیت لوړونې په برخه کې د پوهنتون له لوري د ډېرو علمي برنامو دایرول.

## ۹– د پوهنځي په وړاندې خنډونه

۱. د تخصیص شوي بوجې کموالی؛
۲. د پوهنځي د فارغانو په کاري ساحه د تکنالوژي د چټکو تغیراتو ډیره اغېزه؛
۳. د پوهنځي په نصاب او اقتصادي تیوریو کې د چاپېریال د تغیر له کبله بې ثباتي؛
۴. له انګلیسي ژبې او معلوماتي تکنالوژي سره د نوي جذب شوي محصلانو کمه بلدتیا؛
۵. په پکتیکا ولایت کې د اقتصاد پوهنځي د محصلانو د عـملي کار کــولو لپاره فرصتونه؛
۶. په ملي ژبو په ځانګړي توګه په پښتو ژبه کې د پوهنځـي اړوند علمي منابعو کموالی؛
۷. د دې پوهنځي د علـمي کادر د غړو لپاره د ماستري او دوکتورا د بورسونو کمښت؛

## ۱۰– د پوهنځي د علمي برنامو پېژندنه




اقتصاد پوهنځی د اوس مهال لپاره دوه علمي برنامې پرمخ وړي، چې د منجمنټ او تشبثاتو د اداري او مالي او بانکي چارو له دېپارتمنتونو څخه عبارت دي. د دې فارغ ورکوونکو علمي برنامو ترڅنګ په پوهنځي کې د استادانو، کارمندانو او محصلانو د ظرفیت لوړونې او د

مهارتونو د پراختیا لپاره لنډمهاله علمي برنامې لکه روزنیز کورسونه، علمي سمینارونه او ورکشاپونه هم پر لاره اچول کېږي ترڅو د خپلو استادانو، کارمندانو او محصلانو مهارتونو ته وده ورکړي.

## ۱- منجمنټ او د تشبثاتو اداري دېپارټمنټ

منجمنټ او د تشبثاتو د اداري دېپارتمنت د اقتصاد پوهنځي یو مهم دېپارتمنت شمېرل کېږي، چې د دې پوهنځي له تأسیس سره سم په ۱۳۹۹ هـ. ش. کال کې ایجاد شوی دی. دغه دېپارتمنت د فارغ ده دېپاتمنتونو له جملې څخه دی چې خپله لومړی دوره ۴۲ تنه فارغان یې په ۱۴۰۲ کال کې ټولنې ته د خدمات په موخه وړاندې کړي دي.

### ۱-۱- د دېپارټمنټ لیدلوری

د منجمنټ او تشبثاتو د اداري څانګه به په راتلوونکي کې د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې د پوه، متعهد او متخصص کاري ځواک په روزنې سره د هېواد په کچه یوه مخکښ او باکیفیته څانګه وي.

### ۱-۲- د دېپارټمنټ ماموریت

د منجمنټ او د تشبثاتو د اداري څانګه د اکاډمیک چاپېریال په لرلو سره د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې د مدیریت او د تشبثاتو د اداري برخه کې د ټولنې د اړتیا مطابق په ملي کچه سیال او با کیفیته تدریس، تحقیق او خدمات وړاندې کوي.

### ۱-۳- د دېپارټمنټ تحصیلي نصاب

د منجمنټ او تشبثاتو اداري څانګه د لیسانس څلور کلنه تحصیلي دوره لري، چې په نورمال توګه په اته سمسترونو کې لوستل کېږي. د دې څانګې په تحصیلي نصاب کې درې کټګوري مضامین شامل دي، چې عبارت دي له:

۱) عـمومي مضامین (پوهنتون شمول مضامین لکه اسلامي ثقافت)
۲) اســاسي مضامین (چې د تخصصي رشي لپاره کمکي حیثیت لري)
۳) تخصصي مضامین (چې د محصل د زده کړې اصلي رشته ګڼل کېږي)

د دې دېپارتمنت د مضامینو د کریدیتونو شمېر یو له بله توپیر لري او هم په هر سمستر کې مختلف کریدیتونه لوستل کېږي، چې حداکثر کچه یې باید تر ۲۱ کریدیته زیاته او تر ۱۷ کریدیته کمه نه وي؛ دغه مضامین په لاندې جدول کې ښودل شوي دي:

| د لومړي ټولګي د لومړي سمستر مضامین | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ګڼه | د مضمون نوم | کود | کریډیټونه | دیپارټمنټ | نوعیت |
| ۱ | تجوید | SL-IC0101 | 1 | شرعیات | عمومي |
| ۲ | د اسلام اعتقادي نظام | SL-IC0102 | 2 | شرعیات | عمومي |
| ۳ | د لوی اقتصاد اساسات I | EC110 | 3 | ملي اقتصاد | اساسي |
| ۴ | د کوچني اقتصاد اساسات I | EC120 | 3 | ملي اقتصاد | اساسي |
| ۵ | مالي محاسبه I | EC130 | 2 | BBA | اساسي |
| ٦ | ریاضي I | EC140 | 2 | احصائیه | اساسي |
| ۷ | انګلیسي I | EC150 | 2 | ادبیات | عمومي |
| ۸ | احصائیه I | EC160 | 3 | احصائیه | اساسي |
| ۹ | اقتصادي سنجشونه | EC170 | 2 | احصائیه | اساسي |
| د لومړي ټولګي د دویم سمستر مضامین | | | | | |
| ګڼه | د مضمون نوم | کود | کریډیټونه | دیپارټمنټ | نوعیت |
| ۱ | سیرت او اسلامي تاریخ | SL-IC0201 | 2 | شرعیات | عمومي |
| ۲ | د اسلام عبادتي نظام | SL-IC0202 | 2 | شرعیات | عمومي |
| ۳ | د لوی اقتصاد اساسات II | EC210 | 2 | ملي اقتصاد | اساسي |
| ۴ | د کوچني اقتصاد اساسات II | EC220 | 3 | ملي اقتصاد | اساسي |
| ۵ | مالي محاسبه II | EC230 | 2 | BBA | اساسي |
| ٦ | ریاضي II | EC240 | 2 | احصائیه | اساسي |
| ۷ | انګلیسي II | EC250 | 1 | ادبیات | عمومي |
| ۸ | احصائیه II | EC260 | 2 | احصائیه | اساسي |
| ۹ | عامه مالي چارو اساسات | EC270 | 3 | مالي او بانکي | اساسي |
| ۱۰ | د حقوقو مبادي | EC280 | 2 | مالي او بانکي | اساسي |
| د دویم ټولګي د لومړي سمستر مضامین | | | | | |
| ګڼه | د مضمون نوم | کود | کریډیټونه | دیپارټمنټ | نوعیت |
| ۱ | د اسلام اخلاقي نظام | SL-IC0301 | 2 | شرعیات | عمومي |
| ۲ | د اسلام ټولنیز نظام | SL-IC0302 | 2 | شرعیات | عمومي |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ٣ | کوچنی اقتصاد | EC310 | 3 | اقتصادملی | اساسي |
| ۴ | انګلیسي د تجارت لپاره | EC320 | 2 | BBA | تخصصي |
| ۵ | د لګښتونو سنجش | EC330 | 3 | BBA | تخصصي |
| ٦ | احتمالات I | EC340 | 3 | احصائیه | عمومي |
| ٧ | د پیسو اقتصاد | EC350 | 3 | مالي او بانکي | اساسي |
| ٨ | د اقتصادي نظریاتو تاریخ | EC360 | 3 | ملي اقتصاد | تخصصي |
| د دویم ټولګي د دویم سمستر مضامین | | | | | |
| ګڼه | د مضمون نوم | کود | کریدیتونه | دیپارتمنت | نوعیت |
| ١ | فکري تربیه | SL-IC0401 | 2 | شرعیات | عمومي |
| ٢ | ادیان او مذاهب | SL-IC0402 | 1 | شرعیات | عمومي |
| ٣ | لوی اقتصاد | EC410 | 3 | ملي اقتصاد | اساسي |
| ۴ | تمویل | EC420 | 2 | BBA | تخصصي |
| ۵ | احتمالات II | EC430 | 2 | احصائیه | اساسي |
| ٦ | د لګښتونو سنجش | EC440 | 3 | BBA | تخصصي |
| ٧ | انګلیسي د تجارت لپاره | EC450 | 1 | BBA | تخصصي |
| ٨ | د منجمنټ اساسات | EC460 | 2 | BBA | تخصصي |
| ٩ | پانګونه | EC470 | 2 | BBA | تخصصي |
| ١٠ | اقتصادي حقوق | EC480 | 2 | مالي او بانکي | اساسي |
| د دریم ټولګي د لومړی سمستر مضامین | | | | | |
| ګڼه | د مضمون نوم | کود | کریدیتونه | دیپارتمنت | نوعیت |
| ١ | د اسلام سیاسي نظام | SL-IC0501 | 2 | شرعیات | عمومي |
| ٢ | د اسلام اداري نظام | SL-IC0502 | 2 | شرعیات | عمومي |
| ٣ | بین المللي اقتصاد I | EC511 | 2 | ملي اقتصاد | تخصصي |
| ۴ | د عامه بودجې تیوري | EC512 | 3 | مالي او بانکي | تخصصي |
| ۵ | د اقتصادي پرمختیا تیوري | EC513 | 3 | ملي اقتصاد | تخصصي |
| ٦ | منجمنټ | EC514 | 3 | BBA | تخصصي |
| ٧ | د بازار موندنې مدیریت | EC515 | 3 | BBA | تخصصي |

| شمېره | د مضمون نوم | کود | کریډیټونه | دیپارټمنټ | نوعیت |
|---|---|---|---|---|---|
| د دریم ټولګي د دویم سمستر مضامین | | | | | |
| ګڼه | د مضمون نوم | کود | کریډیټونه | دیپارټمنټ | نوعیت |
| ۱ | د اسلام اقتصادي نظام | SL-IC0601 | 2 | شرعیات | عمومي |
| ۲ | بین المللي اقتصاد II | EC611 | 3 | ملي اقتصاد | عمومي |
| ۳ | منطقوي اقتصاد | EC612 | 2 | ملي اقتصاد | تخصصي |
| ۴ | الکترونیکي تجارت | EC613 | 3 | BBA | تخصصي |
| ۵ | د عامه بودجې سیاست | EC614 | 3 | مالي او بانکي | تخصصي |
| ٦ | د تشبثاتو مدیریت | EC615 | 3 | BBA | تخصصي |
| ۷ | تهیه اوتدارکات | EC616 | 2 | BBA | تخصصي |
| ۸ | ترینینګ (عملي کار) | EC761 | 2 | BBA | تخصصي |
| د څلورم ټولګي د لومړی سمستر مضامین | | | | | |
| ګڼه | د مضمون نوم | کود | کریډیټونه | دیپارټمنټ | نوعیت |
| ۱ | قرآن او معاصر علوم | SL-IC0701 | 2 | شرعیات | عمومي |
| ۲ | بانکداري | EC711 | 3 | مالي او بانکي | عمومي |
| ۳ | عمومي اقتصادي سیاستونه | EC712 | 3 | ملي اقتصاد | تخصصي |
| ۴ | د بشري سرچنو مدیریت | EC713 | 3 | BBA | تخصصي |
| ۵ | مالي مدیریت | EC714 | 3 | BBA | تخصصي |
| ٦ | د څېړنې روش پوهنه | EC715 | 3 | BBA | تخصصي |
| ۷ | کمپیوتر د احصائې لپاره | EC716 | 2 | احصائیه | تخصصي |
| د څلورم ټولګي د دویم سمستر مضامین | | | | | |
| ګڼه | د مضمون نوم | کود | کریډیټونه | دیپارټمنټ | نوعیت |
| ۱ | د اسلام تمدن | SL-IC0801 | 2 | شرعیات | عمومي |
| ۲ | اسلامي اقتصاد | EC811 | 3 | شرعیات | عمومي |
| ۳ | ستراتیژیک مدیریت | EC812 | 3 | BBA | تخصصي |
| ۴ | تفتیش او کنترول | EC813 | 3 | BBA | تخصصي |
| ۵ | سیمنار | EC814 | 4 | BBA | تخصصي |
| ٦ | مونوګراف | EC815 | 4 | BBA | تخصصي |

## ۲– مالي او بانکي چارو دېپارتمنت

مالي او بانکي چارو دېپارتمنت د اقتصاد پوهنځي یو بل مهم دېپارتمنت شمېرل کېږي، چې د دې پوهنځي له تأسیس سره سم په ۱۳۹۹ هـ. ش. کال کې ایجاد شوی دی. دغه دېپارتمنت د فارغ ده دېپاتمنتونو له جملې څخه دی چې خپله لومړی دوره ۴۲ تنه فارغان یې په ۱۴۰۲ کال کې ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي دي.

### ۲–۱– د دېپارتمنت لیدلوری

مالي او بانکي څانګه به په راتلوونکي کې د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې د پوه، متعهد او متخصص کاري ځواک په روزنې سره د هېواد په کچه یوه مخکښ او باکیفیته څانګه وي.

### ۲–۲– د دېپارتمنت ماموریت

مالي او بانکي څانګه د اکاډمیک چاپېریال په لرلو سره د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې د مالي او بانکي چارو په برخه کې د ټولنې د اړتیا مطابق په ملي کچه سیال او با کیفیته تدریس، تحقیق او خدمات وړاندې کوي.

### ۲–۳– د دېپارتمنت تحصیلي نصاب

د مالي او بانکي چارو څانګه د لیسانس څلور کلنه تحصیلي دوره لري، چې په نورمال توګه په اته سمسترونو کې لوستل کېږي. د دې څانګې په تحصیلي نصاب کې درې کټګوري مضامین (عمومي، اساسي او تخصصي) شامل دي. د دې دېپارتمنت د مضامینو د کریډیتونو شمېر یو له بله توپیر لري، او په یوه سمستر کې یې د کریډیتونو شمېر له ۲۱ څخه زیات او له ۱۷ څخه لږ نه وي؛ دغه مضامین په لاندې جدول کې ښودل شوي دي:

| د لومړي ټولګي د لومړي سمستر مضامین | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ګڼه | د مضمون نوم | کود | کریډیتونه | دیپارتمنت | نوعیت |
| ۱ | تجوید | SL-IC0101 | 1 | شرعیات | عمومي |
| ۲ | د اسلام اعتقادي نظام | SL-IC0102 | 2 | شرعیات | عمومي |
| ۳ | د لوی اقتصاد اساسات I | EC110 | 3 | ملي اقتصاد | اساسي |
| ۴ | د کوچني اقتصاد اساسات I | EC120 | 3 | ملي اقتصاد | اساسي |
| ۵ | مالي محاسبه I | EC130 | 2 | BBA | اساسي |
| ٦ | ریاضي I | EC140 | 2 | احصائیه | اساسي |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۷ | انګلیسي I | EC150 | 2 | ادبیات | عمومي |
| ۸ | احصائیه I | EC160 | 3 | احصائیه | اساسي |
| ۹ | اقتصادي سنجشونه | EC170 | 2 | احصائیه | اساسي |
| د لومړي ټولګي د دویم سمستر مضامین | | | | | |
| ګڼه | د مضمون نوم | کود | کریډیټونه | ډیپارټمنټ | نوعیت |
| ۱ | سیرت او اسلامي تاریخ | SL-IC0201 | 2 | شرعیات | عمومي |
| ۲ | د اسلام عبادتي نظام | SL-IC0202 | 2 | شرعیات | عمومي |
| ۳ | د لوی اقتصاد اساسات II | EC210 | 2 | ملي اقتصاد | اساسي |
| ۴ | کوچني اقتصاد اساسات II | EC220 | 3 | ملي اقتصاد | اساسي |
| ۵ | مالي محاسبه II | EC230 | 2 | BBA | اساسي |
| ٦ | ریاضي II | EC240 | 2 | احصائیه | اساسي |
| ۷ | انګلیسي II | EC250 | 1 | ادبیات | عمومي |
| ۸ | احصائیه II | EC260 | 2 | احصائیه | اساسي |
| ۹ | عامه مالي چارو اساسات | EC270 | 3 | مالي او بانکي | اساسي |
| ۱۰ | د حقوقو مبادي | EC280 | 2 | مالي او بانکي | اساسي |
| د دویم ټولګي د لومړي سمستر مضامین | | | | | |
| ګڼه | د مضمون نوم | کود | کریډیټونه | ډیپارټمنټ | نوعیت |
| ۱ | د اسلام اخلاقي نظام | SL-IC0301 | 2 | شرعیات | عمومي |
| ۲ | د اسلام ټولنیز نظام | SL-IC0302 | 2 | شرعیات | عمومي |
| ۳ | کوچنی اقتصاد | EC310 | 3 | اقتصادملی | اساسي |
| ۴ | انګلیسي د تجارت لپاره | EC320 | 2 | BBA | تخصصي |
| ۵ | د لګښتونو سنجش | EC330 | 3 | BBA | تخصصي |
| ٦ | احتمالات I | EC340 | 3 | احصائیه | عمومي |
| ۷ | د پیسو اقتصاد | EC350 | 3 | مالي او بانکي | اساسي |
| ۸ | د اقتصادي نظریاتو تاریخ | EC360 | 3 | ملي اقتصاد | تخصصي |
| د دویم ټولګي د دویم سمستر مضامین | | | | | |
| ګڼه | د مضمون نوم | کود | کریډیټونه | ډیپارټمنټ | نوعیت |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | فکري تربیه | SL-IC0401 | 2 | شرعیات | عمومي |
| ۲ | ادیان او مذاهب | SL-IC0402 | 1 | شرعیات | عمومي |
| ۳ | لوی اقتصاد | EC410 | 3 | ملي اقتصاد | اساسي |
| ۴ | تمویل | EC420 | 2 | BBA | تخصصي |
| ۵ | احتمالات II | EC430 | 2 | احصائیه | اساسي |
| ٦ | د لګښتونو سنجش | EC440 | 3 | BBA | تخصصي |
| ۷ | انګلیسي د تجارت لپاره | EC450 | 1 | BBA | تخصصي |
| ۸ | د منجمنټ اساسات | EC460 | 2 | BBA | تخصصي |
| ۹ | پانګونه | EC470 | 2 | BBA | تخصصي |
| ۱۰ | اقتصادي حقوق | EC480 | 2 | مالي او بانکي | اساسي |
| د دریم ټولګي د لومړی سمستر مضامین | | | | | |
| ګڼه | د مضمون نوم | کود | کریدیتونه | دیپارتمنت | نوعیت |
| ۱ | د اسلام سیاسي نظام | SL-IC0501 | 2 | شرعیات | عمومي |
| ۲ | د اسلام اداري نظام | SL-IC0502 | 2 | شرعیات | عمومي |
| ۳ | بین المللي اقتصاد I | EC541 | 2 | ملي اقتصاد | تخصصي |
| ۴ | د عامه بودجې تیوري | EC542 | 3 | مالي او بانکي | تخصصي |
| ۵ | د اقتصادي پرمختیا تیوري | EC543 | 3 | ملي اقتصاد | تخصصي |
| ٦ | د ژوند د چاپیریال اقتصاد | EC544 | 3 | مالي او بانکي | تخصصي |
| ۷ | عامه اقتصاد | EC545 | 3 | مالي او بانکي | تخصصي |
| ۸ | بیمه | EC546 | 3 | مالي او بانکي | تخصصي |
| د دریم ټولګي د دویم سمستر مضامین | | | | | |
| ګڼه | د مضمون نوم | کود | کریدیتونه | دیپارتمنت | نوعیت |
| ۱ | د اسلام اقتصادي نظام | SL-IC0601 | 2 | شرعیات | عمومي |
| ۲ | بین المللي اقتصاد II | EC641 | 3 | ملي اقتصاد | تخصصي |
| ۳ | منطقوي اقتصاد | EC642 | 2 | ملي اقتصاد | تخصصي |
| ۴ | د عامه بودجې سیاست | EC643 | 3 | مالي او بانکي | تخصصي |
| ۵ | عامه اقتصاد | EC644 | 3 | مالي او بانکي | تخصصي |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ٦ | دولتي محاسبه | EC645 | 3 | مالي او بانکي | تخصصي |
| ٧ | مالي او پولي بازارونه | EC646 | 3 | مالي او بانکي | تخصصي |
| ٨ | ترينينګ (عملي کار) | EC648 | 2 | مالي او بانکي | تخصصي |

د ځلورم ټولګي د لومړی سمستر مضامين

| ګڼه | د مضمون نوم | کود | کريديتونه | ديپارتمنت | نوعيت |
|---|---|---|---|---|---|
| ١ | قرآن او معاصر علوم | SL-IC0701 | 2 | شرعيات | عمومي |
| ٢ | بانکداري | EC741 | 3 | شرعيات | تخصصي |
| ٣ | عمومي اقتصادي سياستونه | EC742 | 3 | ملي اقتصاد | تخصصي |
| ۴ | د مالي خطرونو مديريت | EC743 | 3 | مالي او بانکي | تخصصي |
| ۵ | مالي سياستونه | EC744 | 3 | مالي او بانکي | تخصصي |
| ٦ | د څېړنې روش پوهنه | EC745 | 3 | مالي او بانکي | تخصصي |
| ٧ | کمپيوتر د احصائي لپاره | EC746 | 2 | احصائيه | اساسي |

د ځلورم ټولګي د دويم سمستر مضامين

| ګڼه | د مضمون نوم | کود | کريديتونه | ديپارتمنت | نوعيت |
|---|---|---|---|---|---|
| ١ | د اسلام تمدن | SL-IC0801 | 2 | شرعيات | عمومي |
| ٢ | اسلامي اقتصاد | EC821 | 3 | شرعيات | تخصصي |
| ٣ | د پيسو سياستونه | EC822 | 3 | مالي او بانکي | تخصصي |
| ۴ | د دولت استقراض | EC823 | 3 | مالي او بانکي | تخصصي |
| ۵ | سيمنار | EC824 | 4 | مالي او بانکي | تخصصي |
| ٦ | مونوګراف | EC825 | 4 | مالي او بانکي | تخصصي |

د اقتصــاد پوهنځي د منجمنټ او تشــبثاتو اداري او مالي او بانکي چارو څانګو د اته واړه سمسترونو مضامينو کريديتونه په لاندې ډول دي:

- اساسي مضامين :: ۴۳ کريډيټه
- عمومي او اختياري مضامين :: ۲۴ کريډيټه
- تخصصي مضامين :: ۷۸ کريډيټه
- مونوګراف او سيمنارونه :: ۱۱ کريډيټه

---

مجموعه :: ۱۵٦ کريډيټه

## ۱۱– د پوهنځي د راتلونکي برنامو پېژندنه

د پوهنځي راتلوونکي برنامې چې د پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسې د عمده برنامو او د پوهنځي د ستراتېژيکو موخو مطابق ترتیب شوې دي عبارت دي له :

۱ – د څېړنو د پرمختیا او د پوهې او نوښت د تولید اړوند برنامې؛

۲ – د اداري او رهبري، د سیستم د ایجاد او د فساد کاملا له منځه وړلو اړوند برنامې؛

۳ – د نصابونو د بیا کتنې، پرمختیا او تدوین اړوند برنامې؛

۴ – د تحصیلي نهاد د کیفیت د بهبود، نظارت او ارزونې اړوند برنامې؛

۵ – د الکترونیکي زده کړو د ښه والی او پرمختیا برنامې؛

٦ – د زېربناء د ښه والي، پراختیا او تجهیز برنامې؛

۷ – د کارمندانو او کادري غړو د ظرفیت لوړولو برنامې؛

۸ – د تقنیني او تخنیکي اسنادو د تدوین او بیا کتنې اړوند برنامې؛

۹ – له اکاډمیکو او غیر اکاډمیکو بنسټونو سره د اړیکو پراختیا او بهبود اړوند برنامې؛


۱۰ – لوړو زده کړو ته د عادلانه لاس رسي او د محصلانو د استعدادونو د ودې لپاره د خدماتو د وړاندې کولو برنامې. دغو برنامو ته اقتصاد پوهنځي په خپل ستراتېژیک پلان کې ځای ورکړی دی او د هرې یوې د پلي کولو لپاره له مناسبې کړنلارې څخه کار اخلي.

## ۱۲– د پوهنځي تحصیلي نظام (استادان / کارمندان)

اقتصاد پوهنځی تراوسه (۱۴۰۳ کال تر پایه) پورې په خپل تشکیل کې ۱۳ کادري بستونه (استادان) لري، چې پنځه تنه یې په مالي او بانکي او پاته ۸ تنه یې په منجمنټ او تشبثاتو اداري څانګې پورې اړه لري؛ د دې اته تنه استادانو له ډلې څخه ٦ تنه استادان د اړوند څانګې مسلکي کادري غړي دي او دوه تنه یې د کمپیوتر مضمون د تدریس لپاره ګمارل شوي او بستونه په منجمنټ او تشبثاتو اداري څانګه کې ورته ځانګړی شوی دی. د مالي او بانکي څانګې یو تن استاد ماستري تحصیلي درجه او پوهنیار علمي رتبه لري او پاته څلور تنه یې لیسانس دي او نوماند پوهنیار علمي رتبه لري، چې دوه تنه یې یو د هېواد په داخل او بل یې له هېواده بهر په ترکیه هېواد کې د ماستري برنامې په زده کړه بوخه دي. د منجمنټ او تشبثاتو په اداري څانګه کې دوه تنه د اړوند څانګې مسلکي استادان او یو تن د کمپیوتر د تدریس استاد د ماستري تحصلي درجه لري او پاته استادان یې لیسانس تحصیلي درجه لري؛ د کمپیوتر د تدریس یو تن استاد پوهنمل او او یوتن مسلکي استاد پوهنیار علمي رتبه

لري او پاته پنځه تنه استادان يې نوماند پوهنیار علمي رتبه لري او له جملې څخه دوه تنه د ځانګې مسلکي استادان فعلا د هېواد په داخلي کې د ماسټري برنامې په زده کړه بوخه دي. د پوهنځي د استادانو له جملې څخه د منجمنټ او تشبثاتو اداري ځانګې د عملي کادر يوتن ماستر پوهنیار کادري غړی فعلا د پوهنځي د رئيس په توګه (د دويم کادري بست لرونکی) او دوه تنه لیسانس نوماند پوهنیار استادان د دېپارتمنتونو د آمرينو په توګه (د دريم کادري بست لرونکي) دنده پرمخ وړي. د پوهنځي څلور تنه هغه استادان چې فعلا د هېواد په داخل او بهر کې په ماسټري برنامو بوخه دي، د ۱۴۰۴ هـ. ش. کال په نیمايې کې خپلې زده کړې پای ته رسوي او د خدمت او تدريس په موخه به بېرته د دندې استحصال کوي او د فرصت په برابريدلو سره به په نوبت او ترتيب سره پاته لیسانس استادان د ماسټري او ماستر استادان د دکتورا برنامو ته د تحصيلي درجې د لوړولو په موخه معرفي کېږي. د کادري تشکيل ترڅنګ پوهنځی تر دامهاله په خپل تشکيل کې يو تن عمومي تدريسي مدير (د څلورم بست لرونکی)، يو تن اجرائيه مدير (د پنځم بست لرونکی) او درې تنه خدماتي کارمندان (د اتم بست لرونکي) لري.

## ۱۳– د اقتصاد پوهنځي تشکیلاتي چارت



## ۱۴– د اقتصاد پوهنځي دفارغانو لپاره د کار ساحې

د اقتصاد پوهنځي فارغان په مختلفو دولتي او خصوصي نهادونو کې د مالي او مدیریتي چارو په برخه کې دنده پرمخ وړلای شي، چې د دنده عمده مراجع یې عبارت دي له:

- مالیې وزارت؛
- اقتصاد وزارت؛
- لوړو زده کړو وزارت؛
- د تجارت او صنایعو وزارت؛
- د صنایعو او سوداګرۍ وزارت؛
- صنعتـــي تصدیانې (کارخانې)؛
- دولتي او خصوصي خدماتي شرکتونه؛
- ښاروالۍ، د ښارجوړونې او د کلیو پراختیا وزارت؛
- په ټولو وزارتو او ادارو کې مدیریتي او مالـــي برخې؛
- مرکزي بانک (د افغانستان بانک) او نور دولتي او خصوصي بانکونه؛
- تجارتي شرکتونه او نور هغه مؤسسات او انجوګانې چې اقتصاد پوهانو ته اړتیا لري.

## ۱۵– د پوهنځي کمېټوې جوړښتونه

اقتصاد پوهنځي د چارو د ښه پرمخ وړلو او د کیفیت لوړاوړي او اعتبار ورکوونې د معیارونو د پوره کولو په موخه مختلفې کمېټې فعاله کړې دي، چې د مؤسسې د اصلي کمېټو تر خارنې لاندې د اصولو، قوانینو او مقرراتو مطابق فعالیتونه تر سره کوي. د پوهنځي هره کمېټه یو مشر او څلور تنه غړي لري، چې مسؤل او غړي یې د پوهنځي د علمي شورا له لوري ټاکل کېږي او د غړو له منځه یې یو تن ددې کمېټې لخوا د منشي په توګه انتخابېږي. له دې کمېټو څخه هره یوه یې د دندو د لایحې، عملیاتي پلان، اکاډمیک مهال وېش او نورو تقنیني سندونو لرونکي دی. کمېټې په میاشت کې یو ځل غونډه نیسي، په ټاکل شوې اجنډا باندې د غونډې د ګډونوالو لخوا هر اړخیز بحث کېږي او د کمېټې پرېکړه ددې کمېټې د غونډو په کتاب کې ثبتېږي. د پوهنځي هره کمېټه د پوهنځي علمي شورا ته له خپلو کړنو څخه میاشتنی را پور وړاندې کوي او هم ددې کمېټو د کړنو راپورونه د کیفیت لوړاوي اصلي کمېټې ته استول کېږي او د هر سمستر په پای کې د پوهنځي د رئیس لخوا د هغو توحیدي راپور د مؤسسې علمي شورا ته وړاندې کېږي. د دې پوهنځي کمېټې عبارت دي له:

- د نظم او دسپلین او شکایاتو د حل کمېټه؛
- د نشراتو او فرهنګي چارو کمېټه؛
- د الکترونیکي زده کړو کمېټه؛
- د ستراتېژیک پلان کمېټه؛
- د تحصیلي نصاب کمېټه؛
- د تضمین کیفیت کمېټه؛
- د علمي خپرنو کمېټه؛
- د ازموینو کمېټه؛

## ۱۶– له پوهنځي څخه فراغت معیارونه

یو محصل باید د فراغت د سند د لاس ته را وړلو لپاره لاندې موارد بشپړ کړي:


- محصل باید اته سمسترونه په بریا سره بشپړ کړي؛
- محصل باید ۱۳۸ کریډیټي ساعتونه تکمیل کړي؛
- د محصل عمومي فیصدي باید حداقل ٪۶۰ پوره شوي وي؛
- محصل باید خپل مونوګراف بشپړ کړي او له هغه څخه په بریا سره دفاع وکړي؛
- د محصل د وروستي سمستر نمرې به لوړو زده کړو وزارت ته لېږل شوي وي او د محصلانو د فراغت کتاب به په وزارت کې طی مراحل شوی وي.

## ۱۷– د پوهنځي زیربنائي امکانات

اقتصاد پوهنځي په ۱۳۹۹ هـ. ش. کال کې تأسیس شوی دی، چې په زیربناء برخه کې خپل امکانات نه لري. دغه پوهنځي د داري چارو د پرمخ وړلو لپاره د مؤسسې له (F) بلاک څخه ګټه اخلي او اداري دفترونه (د پوهنځي ریاست، د دېپارټمنتونو آمریتونه، تدریسي عمومي مدیریت او اجرائیه مدیریت) په همدې بلاک کې موقیعت لري.




۱– انځور: د اقتصاد اداري (F) بلاک



۲– انځور : د اقتصاد پوهنځی د ریاست دفتر




۳– انځور : د اقتصاد پوهنځی د اداري بلاک عمومي دهلیز

## ۱۷–۱– تدریسي زیربناء

اقتصاد پوهنځی تر دا مهاله د کرنې پوهنځي له بلاک څخه د تدریس لپاره استفاده کوي او په دې بلاک کې مجهز درسي ټولګي لري، چې د ټولو اړینو امکاناتو لکه LCD سکرینونو، لویو سپینو د لیکنې تختو، ستېجونو، ساونډ سیستم، چوکیو او کافي روښنایې درلودونکي دي چې له محصلینو سره د تدریس په پروسه کې کافي مرسته کوي او په مټ یې د تدریس بهیر په نورمال توګه پر مخ وړل کېږي.

## ۱۷–۲– کتابتون

اقتصاد پوهنځي تر اوسه پورې د پوهنځي په سطح ځانګړی کتابتون نه لري او استادان او محصلین یې د مؤسسې له عمومي کتابتون څخه استفاده کوي. کتابتون د مؤسسې مرکزي ځرخ ګڼل کېږي او ددې لپاره ایجاد شوي دی، چې د یاد مؤسسې د درسي، زده کړه ییزو او څېړنیزو پروګرامونو ملاتړ وکړي او هغو ته اسانتیاوې رامنځ ته کړي. د دې مؤسسې په کتابتون کې ګڼ شمېر دیني، اقتصادي، کرنیز، ښوونیز او تربیتي او نور کتابونه، مونوګرافونه، څېړنیز راپورونه او نور علمي اثار شتون لري، چې په ټولو رسمي وختونه کې د استادانو، کار کوونکو او محصلانو پر مخ پرانیستی وي. د مؤسسې رهبري هڅه کوي، چې دغه کتابتون د ګڼ شمېر اقتصادي کتابونو د چمتو کولو له لارې لا غني کړي.



۴– انځور: د پکتیکا پوهنتون عمومي کتابتون

## ۱۷–۳– کمپیوتر لبب

اقتصاد پوهنځی تر دامهاله د پوهنځي په سطح ځانګړی کمپیوتر لبب نه لري او محصلان یې د عملي کار لپاره د پوهنتون له عمومي کمپیوتر لیب څخه کار اخلي. پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسه محصلانو ته د کمپیوټر او انټرنیټ د عملي زده کړو د ورکولو لپاره یو کمپیوتر لبب لري، چې په ګڼ شمېر کمپیوترونو او الکترونیکي وسایلو سمبال دی. له دغه کمپیوتر لبب څخه محصلان د کمپیوتر، معلوماتي تکنالوژي او انټرنیټ د زده کړې لپاره کار اخلي او د هغوی د مهارتونو په وده کې فعاله ونډه لري. پوهنځی هڅه کوي چې ژر تر ژره خپلو محصلینو ته یو ځانګړی کمپیوتر لبب چمتو کړي، په دې برخه کې یې پوره هڅه کړې دی.



۵– انځور : د پکتیکا پوهنتون عمومي کمپیوتر لېب

## ۱۷–۴– د مهارتونو د پرمختیا مرکز

پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسې د خپلو کادري غړو او اداري کارمندانو د مهارتونو د ودې او پراختیا په موخه د مهارتونو د پرمختیا مرکز ایجاد کړي دی. په دې مرکز کې د مؤسسې د استادانو او کارمندانو د مهارتونو د لوړولو په موخه ګڼ شمېر ورکشاپونه، سمینارونه او نور ګټور علمي پروګرامونه جوړېږي. دې مرکز تر دا مهاله په خپله برخه کې ګڼ شمېر علمي خدمات وړاندې کړي دي.



٦– انځور : د پکتیکا پوهنتون د مهارتونو د پرمختیا مرکز تالار

### ۱۷-۵- د غونډو تالار

اقتصاد پوهنځي تر اوسه پورې ځانګړی د غونډو تالار نه لري او د خپلو محافلو او لویو غونډو لپاره د پوهنتون د غونډو له عمومي تالار څخه ګټه اخلي.



۷- انځور: د پکتیکا پوهنتون د غونډو عمومي تالار

## ومن الله التوفیق

## پای